# بانک


د افغانستان بانک میاشتنۍ

یوولسم کال، یوسلو درې ویشتمه گڼه د ۱۳۹۶ کال د وږی میاشت


د افغانستان بانک

## د افغانستان بانک، نشستی را به هدف تطبیق پلان استراتیژیک دوم خود برگزار کرد





## د افغانستان کورني عواید ورځ تر بلې په ډېریدو دي




### د افغانستان بانک خبرتیا!

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې مطابق د افغانستان رایجې پیسې او پولي واحد افغانی دي، له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کیږي چې ټول قرار دادونه، نورو معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، ځکه چې افغانی په سیمه کې یوه با ثباته پیسه ده چې ستاسو د اقتصادي برنامو جوړونه په ثبات کې ګټوره تمامیږي.

# بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی، عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: آمریت اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب

پلان استراتیژیک دوم د افغاستان بانک، گامی در راستای تحقق بهتر...

د افغانستان بانک، نشستی را به هدف تطبیق پلان استراتیژیک...

د اسلامي بانکدارۍ پراختیا، اقتصادي ودې ته لاره هواره وي

د افغانستان کورني عواید ورځ تر بلې په ډېریدو دي

نگاه مختصر به وضعیت و عملکرد نظام بانکی طی سال ۱۳۹۵

نقش نظام مالی در اشتغالزایی

بانکی سکتور د افغانستان د کریکټ بورډ ملاتړ کوي

د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا

اروپايي ټولنه افغانستان یوازې نه پریږدي

د نړۍ اقتصادي خبرونه

په افغانستان کې د صنعت ودې بهیر ته ځغلنده کتنه

د وخت مدیریت او د هغه اړتیا


نگاهي به بانک جهاني

استفاده از کارت های اعتباری و بانکداری توسط موبایل در...

مختصر در مورد سیستم بانکداری سویس

په لویدیځ او ختیځ سیمه ایزو زونونو کې د عامه اعتبارونو د...

**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسندگان آن بر می گردد، همچنان استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



**پلان استراتیژیک دوم د افغاستان بانک، گامی در راستای تحقق بهتر اهداف**

تأمین ثبات پولی ( ثبات سطح عمومی قیم و مهار نوسانات حاد نرخ مبادله)، ایجاد سیستم مستحکم، مُدرن و سالم مالی، تأمین سیالیت، ایجاد و انکشاف نظام پرداخت مصون، مؤثر ملی به منظور تسهیل رشد اقتصادی، حمایت و انکشاف پایدار و تأمین رفاه عامه از رسالت های د افغانستان بانک می باشد.

د افغانستان بانک همواره تلاش کرده است تا رسالت خویش را به وجه احسن و بصورت دقیق انجام دهد. د افغانستان بانک بعد از پلان استراتیژیک اول خویش که بخش زیاد آنرا بصورت موفقانه پیاده و عملی کرد. اینک پلان استراتیژیک دوم (۱۳۹۶-۱۳۹۹) چهارسالهٔ خود را به هدف بهبود و تحقق ماموریت خویش مبنی بر تحکیم و گسترش یک سیستم مستحکم بانکی و مالی روی دست گرفت.

این پلان که در چارچوب تطبیق پلان های سالانه عملی می گردد، ارکان استراتیژیک و سایر فعالیت های د افغانستان بانک را در قسمت ارتقای مؤثریت سیاست پولی در راستای حمایت از رشد پایدار و ثبات اقتصادی، تحکیم زیربناها و چارچوب حقوقی، مقرراتی و نظارتی بمنظور تأمین ثبات نظام مالی، توسعه خدمات مالی، تحکیم مصونیت و مؤثریت نظام پرداخت و ایجاد سیستم مرکزی برای اوراق بهادار و افزایش حفظ مؤثریت سازمانی و کسب اطمینان از تداوم فعالیت اصلی بیش از پیش تسریع بخشیده و د افغانستان بانک را بسوی موفقیت های بیشتر رهنمائی می کند.

تطبیق این پلان، مسیر خوب و مطلوب را برای بهبود فعالیت ها و بهره برداری مؤثر از منابع در جهت رسیدن به اهداف بزرگ فراهم ساخته و جایگاه د افغانستان بانک را در جهت کمک به رشد اقتصادی پایدار هر چه بیشتر روشن خواهد ساخت.▣

# د افغانستان بانک، نشستی را به هدف تطبیق پلان استراتیژیک دوم خود برگزار کرد



پلان استراتیژیک دوم د افغانستان بانک ( ۱۳۹۶ الی ۱۳۹۹) که منحیث یک سند مهم و پویا تهیه و ترتیب گردیده است، بتاریخ ۱۹ سنبله ۱۳۹۶ جهت بهتر شدن فعالیت ها و انسجام هرچه بیشتر امور به دسترس شعبات مختلف د افغانستان بانک قرار گرفت. این پلان تعهد د افغانستان بانک در راستای تحقق اهداف سیاست های کلان اقتصادی و پولی کشور که ثبات قیمت ها، رشد اقتصادی و سطح مطلوب اشتغال شامل آن می باشد، را احتوا میکند.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک، در حالیکه به چالش های موجود فرا راه تطبیق این پلان و نکات ضعف و نیرومندی همکاران در تطبیق پلان استراتیژیک اول اشاره می نمود، اظهار داشت که رسیدن به رشد اقتصادی مناسب، انکشاف پایدار و خودکفایی نیازمند شکل گیری بستر مناسب مانند تأمین و حفظ ثبات اقتصاد کلان است.

د افغانستان بانک به عنوان نهاد متولی طرح، تدوین و تطبیق سیاست پولی افغانستان و مسئول تنظیم و نظارت بر سکتور مالی و بانکی کشور مسئولیت مهم را بدوش دارد. پلان استراتیژیک دوم د افغانستان بانک به مثابۀ نقشۀ راه که در همسویی و هماهنگی با "چارچوب ملی صلح و انکشاف افغانستان" تهیه شده؛ چشم انداز، اولولیت ها و فعالیت های استراتیژیک را »

طی دورهٔ چهار سال آینده ترسیم می نماید.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک افزود که تمام کارمندان د افغانستان بانک باید در تطبیق این پلان از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نه ورزند، زیرا تطبیق آن، د افغانستان بانک را به سوی پیشرفت و تطبیق سیاست های کُلی بانک نزدیک نموده و سیستم مالی را علمی تر و اکادمیک تر می سازد.

باید علاوه کرد که پلان استراتیژیک دوم د افغانستان بانک مشتمل بر هفت رکن استراتیژیک از قرار "ارتقای مؤثریت سیاست پولی، اصلاح و تقویت چارچوب حقوقی، مقرراتی و نظارتی، گسترش دسترسی به خدمات مالی، افزایش کارایی نظام پرداخت، مدیریت خطرات، ارتقای میکانیزم های محاسباتی، بودجه سازی و تفتیش داخلی، تحکیم امنیت زیربناها و همچنان بهبود سیستم مدیریت منابع بشری می باشد.

رسالت د افغانستان بانک عبارت از تأمین ثبات پولی( ثبات سطح عمومی قیمت ها و مهار نوسانات حاد نرخ مبادله)، ایجاد سیستم مستحکم، مُدرن و سالم مالی، تأمین سیالیت، ایجاد و انکشاف نظام پرداخت مصون و مؤثر ملی بمنظور تسهیل رشد اقتصادی، حمایت از انکشاف پایدار و تأمین رفاه عمومی می باشد.

چشم انداز د افغانستان بانک در میعاد تکمیل پلان دارای جایگاه شایسته و سازگار با دیدگاه یک نهاد مالی ملتزم به انتخاب بهترین شیوه ها و دستورالعمل های بین المللی در ساحه تحکیم ثبات قیمت ها و ایجاد نظام سالم مالی خواهد بود.

ارزش های اساسی و محوری د افغانستان بانک، بیانگر هویت د افغانستان بانک بوده و انعکاس دهنده مسیر و حرکت د افغانستان بانک است. ارزش های اساسی د افغانستان بانک شامل تعهد به تأمین منافع عامه، حسن التفات به مراجع ذیربط و ذینفع، حسن سلوک و درستکاری، شفافیت، رهبری نمونوی، کار گروهی، مساوات و عدالت و حفظ محرمیت می باشد.

پلان استراتیژیک دوم شامل فصول مختلف و حاوی توضیحات مفصل در باره اهداف، فعالیت های مرتبط با هفت رکن استراتیژیک می باشد. در ضمن، ارزش ها، چشم انداز، ماموریت و اهداف عمده استراتیژیک د افغانستان بانک در یک فصل جداگانه ارائه گردیده است. د افغانستان بانک به منظور تأمین یک سیستم شفاف و فعال حسابدهی و گزارش دهی که بتواند قناعت مردم را فراهم سازد، مکلف به عملی سازی این سند معتبر ملی می باشد. ▣

# د اسلامي بانکدارۍ پراختیا، اقتصادي ودې ته لاره هواره وي






کابل، د ۱۳۹۶ کال د وږي په ۲۸ مه د اسلامي بانکدارۍ له لارې د افغانستان اقتصادي ودې په اړه د عامه پوهاوي کنفرانس جوړ شو.

د دې کنفرانس موخه د اسلامي بانکدارۍ په اړه د عامه پوهاوي لوړوالی، اقتصادي وده او په دې لړ کې د شته ستونزو له منځه وړل په ګوته شوي ول.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د دې کنفرانس په ترڅ کې وویل چې که بدلون غواړو باید ټول یو بل سره لاس ورکړو او په کلکه سره کار وکړو، ځکه د اسلامي بانکدارۍ وده او پروړاندې د خنډونو له منځه وړل د دولتي او خصوصي بانکونو ترمنځ همغږۍ او همکارۍ ته اړتیا لري.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې سوداګرۍ او اقتصادي وده هم د اسلامي بانکدارۍ پراختیا پورې تړلې ده، او همدا ډول د اسلامي بانکدارۍ او د نړۍ د مروجې بانکدارۍ او په ټوله کې د اقتصادي ودې په موخه د افغانستان بانک د ټولو خصوصي او دولتي بانکونو تر څنګ ولاړ دی او د هر ډول مرستې لپاره چمتو

»

دی.

په نړۍ کې د بانکدارۍ د سیستم له پرمختګ سره اسلامي بانکدارۍ هم وده کړې ده چې د اسلامي هېوادونو په منځ کې ډېرۍ مسلمانان هڅولي دي، څو په بانکونو کې پانګه اچونه وکړي او د اسلامي بانکدارۍ له لارې خپل شتمنی بډایه کړي.

د دې کنفرانس په درشل کې د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې مرستیال خان جان الکوزي وویل چې دیني عالمانو ته ونډه ورکړل شوې چې هغوی خلک د دې بانکي نظام سره پیوستون ته وهڅوي. د ښاغلي الکوزي په وینا دا پروګرام په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ د سیستم د پوهاوي او اقتصادي ودې په موخه ډېر مهم دی چې د سوداګرۍ او صنایعو خونې یې ملاتړ کوي.

د اسلامي بانکدارۍ سیستم په اسلامي اصولو و ریښو باندې ولاړ دی او په افغانستان کې به مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي، ځکه اسلامي بانکداري د نړۍ د مروجې بانکدارۍ هدفونه تعقیبوي، یعنی د خلکو څخه د پیسو راټولول، او د ګټې لپاره د پیسو په کار اچول دي. خو اسلامي بانکدارۍ فعالیتونه د اسلامي اصولو په رڼا کې ترسره کیږي چې مهم اصل په کې د یوې معاملې څخه د لاس ته راغلې ګټې او تاوان ویشل دي.

ډېرۍ بانکونه چې په افغانستان کې فعالیت کوي د اسلامي بانکدارۍ څانګې یې هم فعالې کړې دي. د سوداګرۍ او صنایعو د خونې د مسئولینو په وینا یو شمیر خلک اوس هم د دیني حساسیتونو په وجه د دې خدمتونو څخه ګټې اخیستنې ته چمتو نه دي، ځکه تردې مهاله هم د اسلامي بانکدارۍ په اړه بشپړ معلومات نه لري.

په دې کنفرانس کې د افغانستان بانک د استازو په شمول، دیني عالمانو، د ولسي جرګې استازو، د سوداګرۍ خونې مرستیال، د سوداګرۍ وزارت چارواکو ، د اتصالات مخابراتي شرکت استازو او دغه راز د دولتي او خصوصي بانکونو د چارواکو په ګډون د یوشمیر نورو بانکونو او بانکي ټولنو استازو برخه اخیستې وو.

ټولو ګډون والو د اسلامي بانکدارۍ په پراختیا او ودې ټینګار وکړ او د اسلامي بانکدارۍ پراختیایې د اقتصادي ودې سره وتړله چې لدې لارې کیدای شي په هېواد کې اقتصادي وده رامنځته شي.

د یادونې وړ ده اوسمهال د نړۍ له ۱۴۱ اسلامي بانکونو څخه ۷۵ سلنه یې په منځنۍ ختیځ کې فعالیت کوي او همدا ډول د نړۍ په ۴۰ هېوادونو کې نږدې ۳۶۰ مالي مؤسسې چې سوداګریز بانکونه، بیمې کمپنۍ او مالي مؤسسات رانغاړي، اسلامي مالي کړنې ترسره کوي چې په مالي چارو او سوداګرۍ په پرمختګ کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي.▣



# د افغانستان کورني عواید ورځ تر بلې په ډېرېدو دي

د افغانستان د مالیې وزارت په وینا، د تېر کال لومړیو شپږو میاشتو په پرتله یې عواید نږدې لس سلنه لوړ شوي دي. د روان کال د عوایدو راټولو لپاره ۱۵۳میلیارده افغانۍ هدف ټاکل شوی دی چې د تېر کال په پرتله ۱۵سلنه لوړ دی.

د مالیې وزارت چارواکو څرګنده کړه چې د روان مالي کال په تېرو شپږو میاشتو کې یې ۷۶.۵ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي چې شاوخوا یو اعشاریه یو میلیارد ډالر کیږي او د تېر کال په پرتله لس سلنه ډېروالی ښکاره کوي.

که څه هم د مالیې وزارت مني چې د عوایدو په راټولولو کې لا هم ستونزې شتون لري، خو دولت هڅه کوي د ځینو اصلاحاتو په راوستلو سره شته ستونزې هوارې کړې، او دولت توانیدلی چې ورځ تر بلې د عوایدو د راټولولو سیستم ته روښتیا ور په برخه کړي، ځکه د هری مالی دورې په تیریدو سره د افغانستان کورني عوایدو کچه لوړیږي.

دولت باید د عوایدو د زیاتوالي په موخه له صنعت کارانو څخه ملاتړ وکړي، د سوداګرۍ لپاره اسانتیاوې برابرې »

کړي، سوداګرو ته خوندي چاپېریال رامنځته کړي، د کورني تولیداتو لپاره بازار موندنه ترسره کړي، سوداګر پانګې اچونې ته وهڅوي، برېښنايي سیستم پیاوړی کړي او صنعتي پارکونه باید د سوداګرو په اختیار ورکړي، څو ټول متشبثین د سوداګرۍ لپاره زړه ښه کړي.

په همدې حال کې نړیوالو په ځانګړي توګه اروپايي ټولنې هم د کلیدي اصلاحاتو په موخه له افغانستان ۱۰۰ میلیونه یورو مرستې ژمنه وکړه، نو پکارده چې د اداري فساد د ختمیدو په موخه اصلاحاتو ته لومړیتوب ورکړل شي، څو اداري فساد ختم شي او افغانستان کورني عواید هغې کچې ته ورسیږي چې هم عادي او هم پراختیايي بودیجې له کورنیو عوایدو څخه تمویل شي.

اوس مهال د افغانستان د پراختیايي بشپړې بودیجې ترڅنګ د عادي بودیجې وړه برخه هم په بهرنیو مرستو ولاړه ده چې د دغو مرستو په نشتوالي سره به دولت له لویو ستونزو سره لاس او ګریوان شي.

دیادونې وړ ده چې اوس د مالیې وزارت تابیا لري، څو په ټولو سرحدي دروازو کې کمپیوټري تلې ولري، د تشریح د بهیر د لیدلو لپاره باید کمرې ولګول شي، سکنر باید په ټولو دروازو کې شتون ولري او د تدارکاتو بهیر يې عملاً وڅاري.

لا هم د خلکو په منځ کې د مالیې ورکړې کلتور عام نه دی او ډېری خلک مالیې ورکړه په ځان بوج او ظلم ګڼي حال دا چې دولت د دې مالیې په بدل کې ورته اسانتیاوې او سهولتونه رامنځته کوي، خو دا هغه ستره ننګونه ده چې د عوایدو د راټولولو پر وړاندې يې خنډونه جوړ کړي او داسې کسان شته چې د مالیې له ورکړې تېښته کوي.

دولت خپلو بهرنیو ملاتړو سره ژمنه کړې چې د عوایدو په راټولولو کې به روڼتیا راولي او د کورنیو عوایدو لوړولو له لارې به په خپلو پښو ودرېږي.

که چیرې د افغانستان مالیې او عوایدو راټولولو سیستم په برېښنايي او انلاین بڼه سمبال شي، ورسره به د اداري فساد مخه ډب او عواید به لوړ شي. د برېښنايي سیستم په رامنځته کیدا سره به کاري چټکتیا رامنځته شي، د خصوصي سکتور وخت به نه ضایع کیږي، د سوداګرو او مالیې برخې کارمندانو ترمنځ به تماسونه کم شي، فساد مخه به ونیول شي او ټول ۵۰۰ ستر مالیه ورکوونکي شرکتونه چې پلورل يې له ۳۰۰ میلیونو افغانیو زیات دي خپله بشپړه مالیه دولت ته وسپاري.▣

حمیدالله فیضي


1. https://www.pashtovoa.com/z/2334/pc7.html?p=17
2. http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-41055168
3. احصائیوي مرکزي اداره ، افغانستان د ارقامو په هینداره کې، ص ۳۷-۳۶.




# نگاه مختصر به وضعیت و عملکرد نظام بانکی طی سال ۱۳۹۵

نظام بانکی کشور طی سال مالی ۱۳۹۵ رشد قابل توجهی داشته است. این رشد در اثر افزایش دارایی ها به وجود آمده و توسط افزایش در سپرده ها تأمین گردیده است. در این سال سرمایه مالی از وضعیت خوبی برخوردار بوده و توسط تزریق سرمایه و افزایش در فایده حاصل گردیده است. از نگاه سیالیت نیز نظام بانکی در سطح مناسب قرار داشت، اما کیفیت دارایی ها هنوز کاستی هایی داشته و مورد توجه ناظرین قرار دارند.

مجموع دارایی های نظام بانکی در مقایسه با ۲۷۰.۶۸ میلیارد افغانی سال قبل ( قوس ۱۳۹۴) شاهد ۱۰.۴۵ فیصد رشد بوده و در ماه قوس سال ۱۳۹۵ به ۲۹۸.۹۷ میلیارد افغانی ثبت گردیده است.

مجموع قروض ناخالص نظام بانکی در مقایسه با سال قبلی ( قوس ۱۳۹۴) ۹.۱۴ فیصد کاهش یافته است و از قرار ماه قوس سال ۱۳۹۵ بالغ بر ۴۱.۲۵ میلیارد افغانی میگردد. کاهش در مجموع قروض طی سال گذشته در اثر تصفیه قروض، خریداری تضمین جایداد قروض از سوی بانک‌ها، حذف (Charge off) قروض خساره و استفاده کم از قروض اضافه برداشت، صورت گرفته است. البته مجموع قروض در مقایسه با ماه قبلی ( عقرب ۱۳۹۵) بنابر عوامل فوق الذکر ۰.۲۵ فیصد کاهش را نشان میدهد.

سپرده ها که منبع اساسی تمویل در بانک‌ها به شمار میرود، در مقایسه با سال گذشته شاهد ۷.۵۷ فیصد رشد بوده و در ماه قوس سال ۱۳۹۵، بالغ بر ۲۵۴.۹۵ میلیارد افغانی میگردد. این منبع اساسی تمویل در بانک‌ها از ماه گذشته بدینسو به اندازه ۳.۲۸ فیصد افزایش را نشان میدهد که در اثر افزایش در مجموع سپرده ها ( جاری و پس انداز) که بالترتیب ۷۴.۷۹ فیصد و ۱۹.۸۲ فیصد مجموع سپرده ها را احتوا می‌نماید؛ صورت گرفته است. در عین حال سپرده های میعادی در قوس ۱۳۹۵ به اندازه ۱.۱۳ فیصد نزول نموده است.

نظام بانکی از سرمایه مالی قوی برخوردار است و در مقایسه با دوره قبلی (قوس ۱۳۹۴) به اندازه ۳۷.۴۳ فیصد افزایش داشته که عمدتاً در اثر تزریق سرمایه و فایده، بدست آمده است.

نظام بانکی افغانستان به طور مجموعی در جریان سال مالی ۱۳۹۵ (سال ۲۰۱۶ میلادی) مبلغ ۴.۲۹ میلیارد افغانی فایده خالص نموده است که در دوره مشابه قبلی (۲۰۱۵- ۱۳۹۴) ۵۲۲ میلیون افغانی فایده خالص نموده بود؛ و در نتیجه نسبت برگشت بر دارایی ها در »

مقایسه با ۰.۲۰ فیصد قوس ۱۳۹۴ در این دوره ( قوس ۱۳۹۵) به ۱.۵۵ فیصد افزایش نموده است.

سیالیت تمام بانکها در مطابقت با حد اقل تعیین شدهٔ د افغانستان بانک قرار داشته، ولی از لحاظ وضعیت باز اسعار، تمام بانک ها (به استثنای هفت بانک که از حد تعیین شده د افغانستان بانک ۴۰± برای اسعار و ۲۰± برای اسعار انفرادی تخطی نموده اند) در مطابقت با حدود تعیین شده د افغانستان بانک قرار دارند.

از قرار قوس ۱۳۹۵ سرمایه مالی سه بانک کمتر از حدود تعین شده قرار دارند، اما نسبت سرمایه مقرراتی تمام بانک‌ها به استثنای یک بانک، بالاتر از حد اقل تعیین شدهٔ د افغانستان بانک، ( ۱۲ فیصد دارایی های عیار شده به اساس خطر) قرار دارند. نسبت سرمایه مقرراتی سکتور بانکی در حدود ۲۷.۶۸ فیصد میباشد که در مقایسه با ماه قوس سال قبل (۱۳۹۴) که به ۱۹.۹۴ فیصد میرسید، به اندازهٔ ۸.۷۳ فیصد افزایش داشته است.

در نظام بانکی افغانستان **۱۵** بانک فعالیت می نمایند که از آنجمله ۳ بانک دولتی، ۹ بانک خصوصی و متباقی ۳ فروع بانک های خارجی اند.

جدول ذیل تعداد نمایندهگی ها و سایر تسهیلات نظام بانکی طی سال مالی ۱۳۹۵ در کشور را نشان میدهد

| | |
|---|---|
| کارت بدهی (دبت کارت) | ۲۳۲،۵۶۸ |
| کارت اعتبار (کریدت کارت) | ۱،۱۱۶ |
| کارت ای تی ایم (ATM) | ۱۶۹،۶۸۷ |
| ویب سرفر کارت | ۷،۲۷۳ |
| کارت پیش پرداخت | ۱،۹۴۳ |
| **مجموعه** | **۴۱۲،۵۸۷** |

| تسهیلات | تعداد |
|---|---|
| نماینده‌گی با خدمات کامل | ۲۰۲ |
| نماینده‌گی با خدمات محدود | ۲۱۴ |
| ماشین های خودکار صرافی (نوع ۲۲) | ۲۰۹ |
| *سایر تسهیلات ( نوع ۲۱،۲۴،۲۵) | ۸۹ |
| محلات فروش (نوع ۲۳) ** | ۳۲۰ |
| مجموعه | ۱،۰۳۴ |

تسهیلات فوق در ۳۳ ولایت کشور بشمول شهر کابل قابل دسترس بوده، در حالیکه تسهیلات کارت ATM در ۸ ولایت، دبت کارت در ۳۰ ولایت و کریدت کارت در ۶ ولایت کشور قابل دسترس می‌باشند.

ضمناً، تا اکنون بطور مجموعی بتعداد ۸۸۰ جواز برای عرضه کننده‌گان خدمات پولی و بتعداد ۲،۱۹۲ جواز برای صرافان اعطأ گردیده است. از ۸۸۰ عرضه کننده خدمات پولی مجوز، ۲۴۴ آن در کابل و ۴۲۵ دیگر آن در سایر ولایات مصروف فعالیت می‌باشند. برعلاوه، به تعداد ۳۴۸ نماینده‌گی های دفتر مرکزی عرضه کننده‌گان خدمات پولی در شهر کابل و سایر ولایات مصروف فعالیت اند. از ۲،۱۹۲ صرافی مجوز، ۴۱۶ آن در کابل و ۱،۵۲۶ آن در سایر ولایات کشور فعالیت می نمایند. ▣




منبع: گزارش آمریت نظارت امور مالی د افغانستان بانک طی سال مالی ۱۳۹۵

* **سهولت نوع ۲۱:** واحدیکه صلاحیت طی مراحل ابتدائی قرضه را داشته، اما صلاحیت پرداخت قرضه را ندارد.

**سهولت نوع ۲۴:** واحدیکه فقط صلاحیت تادیه پول نقد را دارد، مانند پرداخت معاشات کارمندان دولتی و غیر دولتی، و یا سایر تادیات نقدی برای مشتریان بانک.

**سهولت نوع ۲۵:** واحدیکه صرف صلاحیت دریافت پول نقد را از عامه بشکل امانات در حسابات مختلف اشخاص حکمی و حقیقی (معمولاً سفارت خانه ها، هوتل ها و غیره) و صدور رسید جهت دریافت پول نقد را دارد.

** **سهولت نوع ۲۳:** شبکه های خدماتی در فروشگاه ها (تنها مصارف را وضع نموده، اما صلاحیت پس انداز را ندارند).



# نقش نظام مالی در اشتغالزایی

نظام مالی در چرخه اقتصادی یک کشور نقش مهمی را در رشد اقتصاد، اشتغال زایی، شکوفایی برنامه های توسعه ای و بالا بردن سطح زنده گی شهروندان ایفاء می‌نماید. این نظام همچون قلب تپنده در اقتصاد یک کشور کار کرده و در تحریک و فعال سازی پوتانسیل امور اقتصادی اهمیت به سزایی دارد. قبل ازینکه در باره نقش نظام مالی در اشتغال زایی صحبت کنیم، باید در نخست نقش و اهمیت این نظام را در اقتصاد کنکاش نموده و چگونگی ایجاد شغل را نظر به آن استنباط نمائیم.

نظام مالی بخش عمده ای اقتصاد یک کشور را تشکیل میدهد که سرمایه اضافی و راکد افراد ( دولت، اشخاص، شرکت ها، و دیگر سازمان ها) را که دارای برنامه های سرمایه گذاری مفید نمی باشند، به افراد که دارای برنامه های اقتصادی مفید هستند، انتقال میدهد. انتقال سرمایه راکد میتواند به صورت مستقیم و غیر مستقیم صورت گیرد که در انتقال مستقیم، افراد



احمد فرزاد فایق عضو نظارت امور مالی، د افغانستان بانک

سرمایه راکد خود را مستقیماً به شرکت ها و یا مؤسسات که به منابع مالی ضرورت

دارند، بر اساس قرارداد به قرضه میدهند. در انتقال غیر مستقیم، انتقال سرمایه توسط شرکت های مالی و بانک های که زیر چتر نظام مالی فعالیت مینمایند، اجراء میگردد. بنابراین، نظام مالی در گردش آوردن سرمایه در اقتصاد کشور نقش مهم را ایفاء مینماید. ویلیم گلدستون [۱] نخست وزیر فقید بریتانیا در سال ۱۸۵۸م، اهمیت نظام مالی در اقتصاد یک کشور را چنین بیان مینماید: " نظام مالی، همانطوری که در گذشته بود، منحیث سیستم گوارشی در یک کشور است که تمام ارگان های دیگر از آن انرژی میگیرند". همچنان، والتر بگهات بانکدار و تحلیلگر فقید مجله اکونومیست [۲] در سال ۱۸۷۳م در مورد نظام مالی چنین شرح میدهد: "در نظام مالی، سرمایه به صورت منظم در بخش های که نیاز جدی احساس میشود در گردش است، که زیادترین منفعت از آن بدست می آید".

یک نظام مالی ثابت و معتبر، بازاری را که سرمایه در آن به سهولت قابل دسترس باشد، ایجاد نموده که منابع مالی آن به صورت مؤثر به برنامه های که به رشد اقتصاد یک کشور ضرورت باشد، تخصیص داده میشود. مرتون و بودیو [۳] (۱۹۹۵م)، عملکرد یک نظام مالی ثابت را به صورت عموم به موارد عمدهٔ زیر تقسیم نموده اند:

۱- ایجاد روندی برای جمع آوری منابع مالی و تقسیم آن به سهام برای سرمایه گذاری:

در نظام مالی بعضاً سرمایه گذاری های بزرگ هستند که دارای خطر بالا بوده و افراد به طور انفرادی توانایی سرمایه گذاری در آنها را ندارند. افراد جامعه تنها در صورتیکه منابع مالی شان با هم مدغم شوند و یک مبلغ بزرگ را بسازند میتوانند فرصت سرمایه گذاری در این بخش را داشته باشند. ارائه کننده گان سهولت های مالی، روندی سرمایه گذاری را ایجاد مینمایند که افراد بطور انفرادی با سرمایه اندک هم قادر به سرمایه گذاری باشند. بنابراین با موجودیت یک نظام مالی، افراد هم می تواند در جامعه فرصت سرمایه گذاری در برنامه های بزرگ را داشته باشند.

۲- گردش منابع مالی در سیر زمان، خارج مرزها و در بخش های مختلف:

یک نظام مالی راه های برای انتقال و گردش منابع مالی در گذشت زمان، در داخل و خارج مرزها و در بخش های مختلف ایجاد نموده که این روند منابع مالی را در بهترین بخش های تجارتی که فایده آور باشند، سرمایه گذاری مینماید. بانک ها و یا مؤسسات مالی که این روند را انجام میدهند، کوشش مینمایند تا در بهترین فرصت های سرمایه گذاری در هر نقطه جهان و در هر بخش از تجارت که مفید باشد، سرمایه گذاری نمایند.

۳- ایجاد راه ها برای مدیریت خطر:

یک نظام مالی راه هائی را برای اداره و کم کردن خطرات سرمایه گذاری ایجاد مینماید که سرمایه گذاران بتوانند بر اساس خطر و فایدهٔ قابل مدیریت در عرصه های مختلف سرمایه گذاری نمایند. اداره خطرات مالی در برگیرنده

1. William Gladstone
2. The banker and former editor of “The Economist” Walter Bagehot
3. Robert C. Merton and Zvi Bodie

تسهیلات همچون اوراق بهادار مالی، مشتقات مالی وغیره میباشند که اغلباً توسط شرکت های مالی و دولت ها ارائه میگردد.

۴- ایجاد روندی برای ارائه معلومات:

یک نظام مالی ارائه دهنده معلومات دقیق در باره نرخ های بازار میباشد که زمینه را برای اداره بهتر سرمایه تجاران هموار میسازد. این معلومات همچنان برای افراد جامعه که میخواهند نظر به برنامه های آینده شان پول شان را سرمایه گذاری و یا پس انداز نمایند، مفید و ضروری میباشد.

با در نظر داشت اهمیت و نقش نظام مالی در اقتصاد یک کشورکه در بالا نگاشته شد، آیا نظام مالی سبب ایجاد فرصت های کاری برای افراد جامعه میگردد؟ اگر بلی چگونه؟

موجودیت نظام مالی در دایره اقتصادی یک کشور اثرات مستقیم و غیر مستقیم را بالای رشد فرصت های کاری دارا میباشد. نظام مالی که در بر گیرنده مؤسسات مالی و بانک ها میباشد، به صورت مستقیم افراد واجد شرایط کار را جذب نموده و یک بخش مهم از نیروی کاری را تشکیل میدهد. همچنان به شکل غیر مستقیم، نظام مالی با ثبات میتواند فرصت های سرمایه گذاری و کاری را با جمع آوری سرمایه و توزیع آن به سرمایه گذاران فراهم نماید. اشتغال زایی و رشد سرمایه گذاری باهم ارتباط مستقیم داشته و به هر اندازهٔ که اقتصاد کشور و سرمایه گذاری رشد نماید، فرصت های کاری بیشتر بوجود آمده و نرخ بیکاری کمتر خواهد شد. به این لحاظ، در موجودیت یک نظام مالی و با فراهم آوری منابع مالی و قراردادن آن به دسترس سرمایه گذاران موارد عمده ذیل بدست خواهد آمد که همه به نوبه خود سبب ایجاد شغل به افراد جامعه و رشد اقتصادی کشور میگردد:

۱- دسترسی سرمایه گذاران کوچک و متوسط به منابع مالی؛

شرکت های کوچک و متوسط بنیاد اقتصادی کشور های رو به انکشاف را تشکیل داده و در ایجاد شغل و درآمد نقش مهمی ایفاء مینمایند. نظر به گزارش بانک جهانی، در سپتمبر سال ۲۰۱۵م، این شرکت ها ۶۰٪ کُل نیروی کار و ۴۰٪ درآمد کشور های در حال انکشاف را تشکیل میدادند. در همین حال، نظر به تحقیقات بانک جهانی که در ۷۰ کشور در حال انکشاف انجام داده به این نتیجه رسیده که "دسترسی شرکت های کوچک و متوسط به منابع مالی سبب رشد بیشتر در اشتغال زایی میگردد"[۴]. بنابراین، نظام مالی با فراهم آوری سهولت های مالی سبب تشویق و رشد سرمایه گذاری این شرکت ها گردیده و در نتیجه اشتغال زایی بیشتر صورت خواهد گرفت.

۲- ثبات نظام مالی با منابع مالی کم هزینه؛

ثبات در نظام مالی کشور مشوق سرمایه گذاری تجار، سپرده گذاری خانواده ها و شرکت های بزرگ در مؤسسات مالی میگردد. ازدیاد در سپرده گذاری سبب موجودیت منابع مالی بیشتر گردیده و هزینه قروض را برای سرمایه گذاران کمتر مینماید. هزینه کمتر به سرمایه گذاران به معنی فایدهٔ بیشترشان بوده و تشویق به سرمایه گذاری بیشتر میگردد. همانگونه که یاد آوری

4. Meghana Ayyagari, Pedro Juarros, Maria Soledad Martinez Peria, Sandeep Singh
5. Niels Hermes and Robert Lensink

شد، سرمایه گذاری با اشتغال زایی ارتباط مثبت داشته و با رشد سرمایه گذاری، اشتغال زایی هم رشد میکند.

۳- جذب سرمایه گذاری های خارجی؛

نظام مالی ثابت، مؤثریت تخصیص منابع مالی را در برنامه های کاری و پردرآمد ازدیاد بخشیده و قابلیت سرمایه گذاری در یک کشور را بیشتر مینماید. این امر سبب جلب وجذب تجار خارجی شده و رشد سرمایه گذاری خارجی را بیشتر مینماید. نظر به تحقیق هرمز و لینسینکو(۵) (۲۰۰۳م) :"ایجاد و رشد یک نظام مالی که فراهم کننده منابع مالی مطمئن باشد با رشد سرمایه گذاری های خارجی و رشد اقتصادی توأم بوده و با رشد نظام مالی سرمایه گذاری های خارجی هم رشد مینماید". به این ملحوظ، رشد فرصت های کاری توأم و مستقیماً مرتبط با رشد اقتصادی و سرمایه گذاری بوده و با رشد سرمایه گذاری های خارجی، فرصت های کاری برای افراد واجد شرایط کار مهیا میگردد.

۴- منبع برای بودجه دولت؛

دولت برای رشد اقتصاد و ایجاد شغل برای افراد جامعه ضرورت به بودجه داشته و از راه های همچون مالیات بالای بازار کار و بخش های دیگر آن را بدست می آورد. دولت میتواند بخشی از این بودجه را به صورت مستقیم و غیر مستقیم از طریق نظام مالی بدست بیاورد. در صورت مستقیم، دولت بخش از بودجه خود را از مالیات بالای شرکت های مالی خصوصی، کارمندان در نظام مالی و غیره بدست میاورد، ولی در صورت غیر مستقیم؛ که بخش مهم آن نیز میباشد، دولت در هنگام ضرورت به منابع مالی، اوراق بهادار دولتی را در بازار عرضه نموده و در عوض منابع مالی را بدست بیاورد.

در نتیجه، نظام مالی در چرخه اقتصادی یک کشور اهمیت به سزایی داشته که سرمایه راکد را به سرمایه گردشی و مفید تبدیل مینماید. این سرمایه در برنامه های که بهترین و بالاترین فایده را به اقتصاد و جامعه یک کشور داشته باشد، تخصیص داده میشود. رشد اقتصادی، رونق بازار و تمایل سرمایه گذاران به سرمایه گذاری، عواملی هستند که موجب ایجاد شغل شده و ارتباط مستقیم با اشتغال زایی دارند. به هر اندازه که رشد اقتصادی و دیگر عوامل بیشتر باشد، ضرورت به نیروی کار بیشتر شده و نرخ بیکاری کمتر خواهد شد. پس، نظام مالی نقش مهم را در راستای تأمین منابع مالی در دایره اقتصادی کشور ایفاء نموده و سبب رشد اقتصادی، فرصت های سرمایه گذاری مفید، اشتغال زایی و بهبودی در سطح زنده گی مردم میگردد.▣

منابع:


1. The role of financial markets for economic growth, Retrieved from:
2. https://www.ecb.europa.eu/press/key/date/2001/html/sp010531.en.html, at 10:00am, 29/05/1396
3. Merton, R. C., & Bodie, Z. (1995). A conceptual framework for analyzing the financial system. *The global financial system: A functional perspective*, 3-31.
4. Small and Medium Enterprises (SMEs) Finance, Retrieved from: http://www.worldbank.org/en/topic/financialsector/brief/smes-finance, at 2:15pm, 30/05/1396.
5. Ayyagari, M., Juarros, P., Peria, M. S. M., & Singh, S. (2016). Access to Finance and Job Growth.
6. 5 Hermes, N., & Lensink, R. (2003). Foreign direct investment, financial development and economic growth. *The Journal of Development Studies*, *40*(1), 142-163.

# بانکی سکتور د افغانستان

# د کریکټ بورډ ملاتړ کوي



کابل، ۱۳۹۶ د وري ۵- د افغانستان بانک، د سوداګریز بانکونو او د کریکټ بورډ ترمنځ د همکارۍ غونډه جوړه کړه.

له هغه ځایه چې مرکزي بانکونه د اغېزناکه کړنو له لارې د بېلا بېلو برخو په ځانګړې توګه د فرهنګي او سپورتي برخو په وده کې خپل رول لوبولای شي، د افغانستان بانک هم تل هڅه کړې ده، څو په هره برخه کې خپل مثبت رول ولوبوي چې ښه بېلګه يې د سوداګريز بانکونو او کريکټ بورډ ترمنځ د همکارۍ زمينه برابرول دي.

د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي واحد الله نوشير په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه وويل چې د بانکونو او کريکټ بورد ترمنځ همکاري به د لوبغاړو د اقتصادي ودې او د کريکټ د پرمختګ لامل شي او بانکونه کولای شي له همدې لارې د بانکي خدمتونو او محصولاتو په پېژندنه کې ګټه تر لاسه کړي او د بانکي سکتور په لا ودې کې ونډه واخلي او په پايله کې به په بانکي سکتور باندې د خلکو د باور د زياتيدو لامل شي.

ورپسې د افغانستان د کريکټ بورد مشر ښاغلي عاطف مشعل د افغانستان بانک د ملاتړ څخه د مننې ترڅنګ وويل چې ډېرې بانکونه د ډېرو امکاناتو په درلودلو سره کولای شي د کريکټ ملي تيم ملي او نړيواله سياليو لپاره تمويل کړي.

د دې غونډې په پای کې افغان ملي بانک، پښتني بانک، عزيزي بانک، الفلاح بانک، حبيب بانک، آرين بانک، فرست مايکروفاينانس بانک او يو شمير نورو بانکونه چمتوالی ښودلی چې د خپلې بوديجې له څېړنې وروسته به د کريکټ بورډ د سياليو او نورو پروګرامونو د لګښتونو په ورکړه کې پريکړه وکړي.▣



# د افغانستان او چین ترمنځ د اقتصادي اړیکو پراختیا

د ټولنو اقتصادي پراختیا او پرمختګ د هېوادونو ترمنځ د اړیکو په ټینګښت، راکړه او ورکړه او همدا ډول د اړتیا وړ توکو د ترلاسه کولو پورې اړه لري. د اقتصادي پراختیا یوازېنۍ لار سوداګري ده، څکه چې سوداګري د هېوادونو د نږدېوالي تر ټولو مهم لامل ګڼل کیږي، او سر بېره پردې سوداګري د ا قتصادي ودې په چټکتیا کې مهم رول لري.

چین د آسیا د سترو اقتصادي هېوادونو په سر کې دی او د نړۍ له دویم درجې اقتصادي هېوادونو څخه شمیرل کیږي، چې کلنۍ وده یې ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې اته سلنه اټکل شوې ده. په همدې بنسټ چین د نړۍ په ځانګړي توګه د سیمې هېوادونو اومه توکو ته ډېره اړتیا لري او له همدې کبله غواړي چې له افغانستان سره یې اړیکې پراختیا ومومي.

اوسمهال چین هیله لري چې د افغانستان د اقتصادي ودې په موخه په څلورو حوزو کې خپل رغنده رول ترسره کړي چې لاندې کرښو کې یې توضیحات ورکړل شوي دي.

الف: چین د اقتصادي ستر هېواد په توګه پر پاکستان فشار راوړلی شي، څو د افغانستان سیاسي او اقتصادي ثبات سره مرسته وکړي؛

ب: د اومه توکو د ترلاسه کولو په موخه، چین لکه څنګه یې چې په افریقا کې پانګه اچونې ترسره کړې، کولی شي د افغانستان د کانونو په سپړنه کې هم میلیاردي پانګې اچونې ترسره کړي؛

ج: د افغانستان له جغرافیایي، ترانزیټي او ستراتیژیک موقعیت څخه په ګټې اخیستنې چین کولی شي نړۍ ته په آسانه توګه صادرات او واردات ولري او پرې نږدې چې د بېلابېلو ستونزو له کبله په افغانستان کې ګټې په اوبو لاهو شي؛

د : چین اړ دی چې د خپلو اقتصادي ګټو لپاره د افغانستان له سیاسي او اقتصادي ثبات څخه ملاتړ وکړي او له افغانستان سره د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا ترڅنګ د افغانستان اقتصادي ودې او ثبات ټینګښت په موخه خپلې هلې ځلې روانې وساتي؛

افغانستان هم د خپل موقعیت او همداراز د ۳ زره میلیاردو ډالرو څمکنۍ زیرمې د ارزښت په موخه اړتیا لري چې بېلابېلې

»

ترانزيټي لارې: لکه د ورېښمو، لاجوردو هوايي او ځمکنۍ لارې تجربه کړي، څو خپل اقتصادي رول ځرګند او د سیمې هېوادونه ليواله کړي چې د افغانستان له ترانزيټي او نښليدو له ارزښت څخه ګټه واخلي.

همدا راز چين هم ډېره لېوالتيا لري چې د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې پانګه اچونه وکړي او په همدې موخه يې د افغانستان له ډېرو ولايتونو څخه ليدنه کړې ده. خو د چين پانګه اچونې پر وړاندې يوشمير خنډونه لکه نا امني، اداري فساد او بېرو کراسي ده، خو ورځ تربلې دا ستونزې هواريږي، ځکه دولت د اقتصادي ودې او د افغانستان په پښو دريدا لپاره غښتلې اراده لري.

دولت د پانګه اچونې لپاره زمينه مساعده کړې ده او په همدې موخه يې د پانګه اچونې په قانون کې تعديلات راوستل، چې له اداري فساد سره مبارزې ته زور ورکړی. د اقتصادي ودې په موخه يې تګ لارې او ستراتيژۍ رامنځته کړي او همداراز يې د امنيت د ټينګښت په موخه د نظامي عملياتو ترڅنګ په نړيواله او سيمه ايزه کچه همغږي ترلاسه کړې ده.

د افغانستان لرغوني تاريخ ته په پام سره، د ورېښمو لار چې پر افغانستان باندې تيره شوې ده او د پيړيو په اوږدو کې پر همدې لار د ختيځ او لويديځ سوداګري کاروانونه تيرېدل او همدا يې يو مهم مسير وو، نو له همدې کبله افغانستان په عنعنوي توګه د توکو د ليږد راليږد او تبادلې په برخه کې پخوانۍ مخينه لري.

هغه ارزښت ته په کتو سره، چې اقتصاد په نړيوالو اړيکو کې خپل کړی دی، د هر هېواد استازي هڅه کوي چې خپلمنځي سوداګريزي اړيکې پراخې کړي.

افغانستان هم د وروستيو تحولاتو د اغيزي له کبله دومره وکړای شول چې له خپلو ګاونډيو سره غوره سوداګريزي اړيکي ولري، خو د افغانستان په اړه نا سم ذهنيت د پاملرنې وړ موضوع ده چې ګاونډيان تر ډېره افغانستان ته له اقتصادي ليد لوري نه، بلکې له سياسي دور بين څخه ګوري.

اوس مهال د چين په ليد لوري کې بدلون راغلی او دا هېواد د افغانستان اړونده بنسټونو سره په همکارۍ د اوسپنې پټلۍ جوړولو په اړه چې چين د کندز، مزارشريف او هرات له لارې له ايران سره نښلوي او ترڅنګ به يې نوري فايبر هم په دې مسير کې وغځيږي د تمويل کلکه ژمنه کړې ده. افغانستان هم غواړي په سيمه کې د چين ښه اقتصادي شريک اوسي،ځکه اقتصادي وده د دواړو هېوادونو، سيمې او ټولې نړۍ په ګټه ده.

ديادونې وړه ده چې په ۱۳۹۵ کال کې د افغانستان د صادراتو مجموعي کچه نږدې ۶۰۰ ميليونه ډالرو ته رسيږي او د وارداتو کچه بيا نږدې شپږ نيم ميلیارده ډالر اټکل شوي دي، چې د ۱۳۹۴ هجري لمريز کال په پرتله هم صادراتو او هم وارداتو کې ډېروالی رامنځته شوی دی، خو د صادراتو او واراداتو ترمنځ بيلانس ډير توپير لري.

دا په داسې حال کې ده چې چين د نړۍ له سترو اقتصادي هېوادونو څخه شمېرل کيږي او اوسمهال دغه هېواد هڅه کوي، ترڅو د منځنۍ آسيا او سوېلي آسيا هېوادونو بازار ته د رسېدو په موخه بديلې لارې ولټوي، له همدې امله چين هڅه کوي چې د ورېښمو لارې په وسيله ځان له ټولې نړۍ سره ونښلوي چې په دې لار کې افغانستان ته ډېره اړتيا لري.▣

حميدالله فيضي

http://pason.at/pushto/?page_id=809

http://www.tolonews.com/index.php/pa/goftman/

د افغانستان مرکزي احصائيوي اداره، افغانستان د ارقامو په هنداره کې، ص ۲۹ – ۳۴ .

# اروپايي ټولنه افغانستان یوازې نه پرېږدي



EU and Arg (Courtesy Image)

اروپايي ټولنې د زمري په ۳۱مه نېټه سل میلیونه یورو د سمونونو، پالیسۍ جوړونې، اقتصادي ټیکاو او مالي مدیریت مخ ته وړو په موخه له افغانستان سره مرسته وکړه. ځکه چې دولت د سیاست، اقتصاد، پر بودیجې څار او مالي راکړو او ورکړو کې نسبي روڼوالی رامنځته کړی وو. دا مرستې د افغانستان بودجې پورې اړوند دي او ټاکل شوې ده چې د یادې بودجې له لارې په پراختیایي برخو کې ولګول شي.

اروپايي ټولنې یاده پرېکړه د تېرو ۱۲ میاشتو په اوږدو کې د اصلاحاتو له مثبتې ارزونې وروسته وکړه. یادې پیسې د دولت جوړونې د هوکړه لیک (SBC) یوه برخه ده، چې د ۲۰۱۶ کال اکتوبر میاشتې په ۴ مه نېټه د بروکسل کنفرانس په اوږدو کې له افغانستان سره لاسلیک شوې وه.

د افغانستان دولت او اروپايي ټولنې ترمنځ لاسلیک شوې هوکړې پراساس، اروپايي ټولنه ۲۰۰ میلیونه یورو د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو په ترځ کې د افغانستان دولت سره مرسته کوي. د مالیې وزارت د خبر پاڼې له مخې چې دا لومړی شمېر دی، او دوهم شمېر یې چې هم سل میلیونه یورو دي، ډېر ژر به د اصلاحاتو په راوستو سره د افغانستان په بودیجه کې شاملې شي. د سمون په پایله کې اروپايي ټولنه نیغ په نیغه له ملي بودیجې سره مرسته کوي، خو د دې مرستو موخه په لومړیتوبونو لګول، د افغانانو د اړتیاوو بشپړول او بې وزلۍ مخنیوی دی.

د اروپايي ټولنې مرستې د ښې حکومتولۍ په موخه ترسره کېږي، خو دولت هم اړ دی چې مرستندویه

»

هېوادونو ته د ښې حکومتوالۍ، د ښځو د اقتصادي لوړتیا په لوړولو او همدا ډول د بنسټیزو خدمتونو په وړاندې کولو کې ځان ثابت کړي، ځکه نړیوال وروسته له دې نه غواړي چې افغان دولت ته سپین چک په لاس کې ورکړي او د یوه راڼه حساب کتاب له مخې غواړي له افغانستان سره یې مرستې دوام پیدا کړي.

اروپايي ټولنه له افغانستان سره د هغو عمده مرسته کوونکو هېوادونو له ډلې ځخه ده چې له افغانستان سره یې په میلیاردونو مرستې کړې دي او لاهم دوام لري. خو اروپايي ټولنه اړ ده چې په افغانستان کې د پرمختګونو، اقتصادي پیاوړتیا، سولې او ثبات په راوستو کې له افغانستان سره خپلې مرستې کړندۍ کړي، ځکه ورځ تربلې افغان ځوانان د اروپا کډوالۍ ته زړه ښه کوي او د دې کډوالۍ د مخنیوي یوازینۍ لار په افغانستان کې د کار ترڅنګ د خوندي چاپیریال برابرول دي.

د نړیوالو په ځانګړي توګه د اروپايي ټولنې مرستې ثابتوي چې افغانستان د نړیوالو له خوا یوازې نه پرېښودل کیږي او اروپايي ټولنه هم له افغانستان سره خپلو اوږد مهاله سیاسي او اقتصادي مرستو ته دوام ورکوي، ترهغه چې افغانستان په خپلو پښو ودریږي او د نړیوالو اقتصادي، سیاسي او نظامي مرستو ته یې اړتیا کمه شي.

د دولت جوړونې هوکړه لیک (SBC) د افغانستان له دولت سره د سولې او پراختیا ملي چوکاټ پر بنسټ د اصلاحاتي اجنډا په پلي کولو او د لومړیتوب لرونکو ملي پروګرامونو له لارې چې د افغانستان لپاره د تېر کال د اکتوبر په میاشت کې د بروکسل په کنفرانس کې وړاندې شوي وو مرسته کوي، چې په دې سره به ښه حکومتولي، د ښځو اقتصادي پیاوړتیا، ولسي ټرون او د نورو خدمتونو په وړاندې کولو کې پرمختګونه رامنځته شي.

په داسې حال کې نړیواله ټولنه له افغانستان سره په مشروط ډول خپلو مرستو ته دوام ورکوي چې اروپايي ټولنې د افغانستان په دولت کې کلیدي اصلاحات او همدا ډول د څرګند پروګرام پر اساس د مرستو پرلګولو او حساب کتاب په رامنځته کولو ټینګار کړی دی. دولت هم له اداري فساد سره خپله مبارزه کړندۍ کړې او دولت هم د اداري فساد مخنیوی د خپلو کړنو په لومړیتوب کې شامل کړی دی او په همدې موخه یې د ولایاتونو د امنیه قوماندانو په ګډون یوشمیر لوړ پوړي جنرالان، دولتي مامورین او قاضیان هم محاکمه کړي چې د اداري فساد په مخنیوي کې یې مثبت رول لوبولی دی.▣

حمیدالله فیضي

سرچینې:


1. بی بي سي راډیو، پښتو څانګه د ۱۳۹۶ کال د زمري ۳۱
2. http://dailies.gov.af/site/eslah/economic2/html
3. https://www.facebook.com/EuInAfghanistan

# اقتصادي خبرونه

**افغانستان کې د طلا کارولو او پېر او پلور ګرم بازار**

د کابل ښار په یوه سیمه کې د امنیتي اندېښنو له کبله په کابو پټ ډول نږدې دېرش کسان شپه او ورځ د سرو زرو په یوه تولیدي کارخې کې کار کوي.

ډېری کارګران يې ځوانان دي چې په ډېره مینه پر خپلو چارو بوخت دي، ځکه چې کار يې هم هنر دی او هم صنعت.

د دغه کارخې څښتن جاوېد مظفري وايي، د زرګرۍ څه باندې دېرش کلنه تجربه لري. څو کاله وړاندې يې په لاس کار کاوه او اوس د ماشين په مټ. ایران ته يې لس کلنې کډوالي فکر نوی او تجربه ډېره کړه.

په دې کارخونه کې لومړی د طلا د ډیزاینونو لپاره پلاستیکي قالبونه جوړيږي. بیا پلاستیکي قالبونه سره يوځای کيږي او ګچ ورسره ګډيږي. وروسته په یوه وسپنیز توکي کې اچول کیږي او د ۸۰۰ درجې تودوخې درلودونکي یو تنور کې حرارت ورکول کیږي.

د سرو زرو د ایشولو په یوه کوټه کې شاوخوا لس کسان بوخت دي او د طلا وړې ټوټې سره يوځای کوي چې د ښکلا یوه زینتي نمونه جوړه کړي.

له ایشولو او رنګولو وروسته، زینتي ګاڼې په ظرافت سره توږل کيږي او ښکلې ګاڼې ترې جوړيږي چې د لیدونکي پام ځان ته ور واړوي.

د سرو زرو ګاڼو جوړو د یوې کارخونې مشر محمد هارون نظامي وايي، د افغانستان سرو زرو تر نیمایي شاوخوا بازار نیولی، خو له خپل نوم او نښان پرته په نورو نومونو لکه عربي، سینګاپوري او نورو پلورل کيږي.

هغه وايي، دا ځکه چې تر ډېره افغانان په افغانستان کې جوړه شوې طلا ته ډېره لېوالتیا نه لري او د کیفیت په اړه يې بې باوره دي.

ښاغلی مظفري وايي: ″مونږ يې په عمده ډول پلورو، زرګران یوهېږي دا زمونږ په لاس جوړ سره زر دي، خو دا چې د نورو هېوادونو په نوم يې پلوري، د دوی خپل کار دی″.

په افغانستان کې د طلا د فابریکو په ډېرېدو دې هېواد ته د سرو زرو د وارداتو کچه په کلنۍ بڼه نژدې یو ټن ته راکمه شوې. ویل کیږي پخوا به افغانستان ته شاوخوا دوه ټنه سره زر له بهرنیو هېوادونو راوړل کېدل خو په دې هېواد کې دننه د فابریکو په جوړېدو واردات کم شوي.

سرچینه: بي بي سي راډيو، ۲۳ سپتمبر ۲۰۱۷

**درآمد دولت افغانستان '۱۰ درصد افزایش یافت'**

وزارت مالیه افغانستان اعلام کرده که درآمد این کشور در شش ماه نخست سال مالی ۱۳۹۶ نسبت به دوره مشابه سال قبل، ۹.۷ درصد افزایش یافته است.

نجیب الله همدرد، معاون ریاست گمرکات وزارت مالیه بتاریخ پنجم سنبله در یک نشست خبری در کابل گفت که در شش ماه نخست سال ۷۶.۵ میلیارد افغانی (حدود ۱.۱ میلیارد دالر)

»

جمع آوری شده که ۴۷ درصد آن از بخش گمرکات به دست آمده است.
به گفته وی، وزارت مالیه برای تمام سال مالی جاری ۱۵۳ میلیارد افغانی ( حدود ۲.۲ میلیارد دالر) درآمد پیش بینی کرده است. درآمد این کشور در سال گذشته مالی حدود ۱۴۰میلیارد افغانی ( حدود ۲.۰۴ میلیارد دالر) بوده است که پیش بینی آنها ۱۳۲ میلیارد افغانی ( حدود ۱.۹۲ میلیارد دالر) بوده است.
وزارت مالیه می‌گوید با "آوردن اصلاحات اداری، سیستمی، ساده‌سازی پروسه‌ها، استخدام کارکنان متعهد و منفک کردن مامورین دارای مشکل" توانسته‌اند عواید دولت را افزایش دهند.
به گفته آقای همدرد، نصب ترازوهای کمپیوتری در شماری از دروازه‌های گمرکات در کاهش فساد و افزایش عواید تاثیرگذار بوده است. به گفته او برای کارآمدی بیشتر سیستم مالی، لازم است در کنار تغییر در رهبری ادارات و افزایش ظرفیت‌های منابع بشری، در تمام دروازه‌های گمرکات ترازوی کمپیوتری، دوربین و اسکنر هم نصب شود.
فساد مالی گسترده، مسدود شدن شمار زیادی کارخانه های تولیدی، خروج میزان درشت از سرمایه‌ها به خارج کشور به دلیل ناامنی و محدود شدن کسب و کار درآمدزا در افغانستان، از عوامل اصلی به دست نیامدن درآمد حقیقی دولت افغانستان محسوب می‌شود.
وزارت مالیه می‌گوید این اداره در بخش تنفیذ قانون در گمرکات یک همکار تاثیرگذار برای نهادهای امنیتی است. آقای همدرد گفته است که در جلوگیری از ورود مواد غیر قانونی نظیر برخی تیزاب‌هایی که در ساخت مواد انفجاری و تهیه مواد مخدر نقش دارند، گمرکات وزارت مالیه هم گام نهادهای امنیتی تلاش می‌کند.
منبع: بی بی فارسی تاریخ ۵ سنبله ۱۳۹۶

**د افغانستان د مېوې صادرات اته سلنه لوړ شوي دي**

له افغانستانه نورو هېوادونو ته د میوو په صادراتو کې زیاتوالی راغلی دی. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه وایي، د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې د افغانستان د تازه مېوو صادرات د تېر کال د ورته وخت په پرتله اته سلنه زیات شوي دي. د چارواکو په وینا، د صادراتو د کچې د زیاتوالي لامل دا دی چې د افغانستان او هند ترمنځ هوایي دهلیز رامنځته شو او پاکستان هم سږ کال د افغان مېوې د ټرانزېټ پر وړاندې خنډونه جوړ نه کړل. د مسئولینو په خبره چې سږ کال ۹۰ زره ټنه انګور، انار او زردالو بهر ته استول شوي، چې د تېر کال په پرتله اته سلنه زیاتوالی ښیي.
د سوداګرۍ خونې د صاراتو مسئول میرزمان پوپل له هند سره د افغانستان د هوایي دهلیز رامنځ ته کېدل د میوو د صادراتو د زیاتیدو اصلي لامل بولي. دا په داسې حال کې ده چې په دې سره به په افغانستان کې اقتصادي ودې ته لاره هواره شي او د بزګرانو په ژوند کې به هم بدلون رامنځته شي.▣
سرچینه: سپوږمۍ راډیو ۲۳ وږی ۱۳۹۶

# په افغانستان کې د صنعت ودې بهیر ته ځغلنده کتنه

د صنعتي ودې په موخه ډیرئ افغانان د تېر ۱۵ کلن بهیر له لاسته راوړنو څخه خوښ بریښي او وایې چې اوس مهال ډیرئ د اړتیا وړ توکي په افغانستان کې تولیدیږي او آن ځینې بریښنایې، ګازي او پطرولي ماشینونه هم د هېواد دننه تولیدیږي چې د افغانانو اړتیاوې بشپړې کړې دي.

په ۱۳۸۰ هجری لمریز کال په هېواد کې د موقتې ادارې په رامنځته کیدو سره د صنعت په برخه کې هم ځینې پرمختګونه رامنځته شول. اوس مهال په افغانستان کې ټول ټال ۶۶۴ صنعتي موسسې د صنعتي توکو د تولید په برخه کې فعالیتونه تر سره کوي چې له کابو ۶۶ زرو ډیر هېوادوال په کې په کار بوخت دي او د هېواد مهم صنعتي توکي تولیدوي چې له هغې ټولګې څخه: د کېمیاوي سرې، سمنټ، مالګه، د تشناب کاغذ، اوړه، صابون، غیرې الکولي مشروبات، درمل، تعمیراتی سیخ او ځینو نورو ځیزوونو یادونه کولی شو. همدا ډول له ډېرو لرغونو زمانو راهیسې زمونږ هېوادوال هم د لاسي صنایعو په جوړښت کې رول لري او ځینې لاهم د لاسي ځیزونو په جوړښت اخته دي، چې لاسي غالۍ، لیمڅي، ټغر، لاسې غاړې، جرابې، ګنجي... او نور ځیزونه اوبدل کیږي.

په هېواد کې د صنعتي پارکونو له ودې سره سره اومو توکو ته نه لاسرسی،



بریښنایي اسانتیاوو نشتوالی، صنعت کارانو ته کمه پاملرنه، په بهرنیو وارداتي توکو د کمو تعرفو وضع کول، د صنعت کارانو لپاره د خوندي فضا نشتوالی او د مجهزو پارکونو نشتون هغه ستونزې دي چې د صنعتي ودې پر وړاندې لوی خنډونه رامنځته کړي دي.

که څه هم د ځینو تاریخ پوهانو د لیک دود له مخې په افغانستان کې اوسپنیز صنعت نږدې ۹ زره کاله مخکې پیل شوی او د بېلابېلو مسکوکاتو په شمول یې بېلال بېل توکي له اوسپنې جوړ کړې دي، خو بیا هم په بېلا بېلو سیاسي واکمنیو کې کله ناکله د صنعت د ودې بهیر کړندی شوی او ځینې وختونه بیا په ټپه ودریدلی دی. لـه ۱۳۷۱ هـ ش کال څخه وروسته په هېواد کې د صنعت ودې ته پاملرنه ونشوه او ډیرې تولیدې مؤسسې له منځه ولاړې، خو په ۱۳۸۰ کال کې د نوې دورې په راتلو سره په هرڅه کې بدلونونه رامنځته شول چې لاهم ډیر کار ته اړتیا لیدل کیږي.

په تېره یوه نیمه لسیزه کې په افغانستان کې پانګه اچونه زیاته شوې، بېلابېلې فابریکې جوړې شوې، ماشینې کړنو سرعت موندلی، ډیرې د اړتیا وړ توکي په افغانستان کې تولیدیږي او آن ځینې باکیفیته ماشینونه که په افغانستان کې دننه نه تولیدیږي، خو ټوله بسته کاري یې د هېواد دننه ترسره کیږي.

په نړۍ کې د تکنالوژۍ په پرمختګ سره د صنعت په وده کې هم پرمختګ راغلی چې افغانستان ترې بې برخې نه دی.

د افغانستان دولت هڅه کوي د صنعت د ودې په موخه د پانګونې وضعیت ښه والي لپاره د صنعت‌کارانو څخه بشپړ ملاتړ وکړي.

په ۱۳۹۵ هجري لمریز کال کې سرانه خالصه عاید ۴۵ زرو افغانیو ته رسیږي چې د تېر کال په پرتله ۲.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د ۱۵ کالو مخکې په پرتله چې سرانه خالصه عاید ۱۵ زره افغانۍ ښودل شوی وو درې برابره ډیر شوی دی، چې د دې شمیرو په پام کې نیولو سره اقتصادي حالت کې پرمختګ راغلی دی.

د وروستیو کلونو په ترڅ کې د پانګونې په برخه کې د یادو لوړو او ژورو سره سره د رامنځته شویو تشو ډکېدل په اقتصادی برخه کې یوې غښتلې ارادې ته اړتیا لري، ترڅو افغانستان له شته حالاتو څخه رابهر شي او د مطلوب وضعیت په لوري چې د ټولو افغانانو غوښتنه ده روان کړل شي. نو په دې حساسو شېبو کې د هېواد د اقتصادي پرمختګ پروړاندې نا امني او د پانګه اچونې تیښته یو جدی ګواښ شمېرل کیږي، دولت باید د دې ستونزې د هوارولو لپاره په پیاوړو ارادو سره لاس په کار شي، چې د پانګونو په پرمختګ او د اقتصادي وضعیت په ښه کېدو سره، هېواد له دغو حالاتو څخه وباسي.

په هېواد کې پنځه زره کاله وړاندې د ډول ډول مسکوکاتو، کلالي صنعت او ډیرو فلزي وسایلو او لوښو، وروسته بیا د ډیریو ځیزونو په جوړیدا کې له اوسپنې څخه کار اخیستل کیده چې د ډیرو هلو ځلو په پایله کې پرمختګ کړی دی او په ښه ډول یې خپل صنعت ته وده ورکړې ده.▣

**حمیدالله فیضي**


1. ۱۳۹۵ کال احصائیوي کلنی، ص ۸۸، جدول ۱۱-۴.
2. ۱۳۹۵ کال احصائیوي کلنی، ص ۲۰۳ جدول ۹-۱.
3. د ۱۳۹۵ د سوداګرۍ احصائیوي کلنی،ص ۱۷.
4. http://csrskabul.com/pa/?p=3326
5. http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2016/04/16



# د وخت مدیریت او د هغه اړتیا



تاج محمد تمکین
د افغانستان بانک د ختیځ زون اقتصادپوه

په انساني ژوند کې د انسان لپاره وخت اړینه معنوي شتمنۍ ګڼل کیږي، په همدې اساس د وخت له لاسه ورکولو څخه باید مخنیوی وشي. ډیری وخت داسې اتکل کیږي چې یو کار وځنډول شي او یا هم ترسره کول یې راتلونکي وخت ته پاتې شي، خو وروسته بیا لیدل کیږي چې دغه معنوي شتمنۍ څومره ضایع شوې ده. د پرمختیایي هېوادونو په پرتله په پرمختللو هېوادونو کې د وخت له لاسه ورکولو څخه مخنیوی کیږي، ځکه د وخت د له لاسه ورکولو څخه مخنیوی پرمختګ ته لاره هواره وي.

په ورځنیو کارونو کې باید وخت تنظیم شي، په دې معنی چې کوم کارونه مو اړین دي او لومړیتوب لري باید هغه په لومړیو ساعتونو کې ترسره او بیا نورو کارونو ته وخت ورکړل شي.

کله چې اړین کارونه د مهال ویش له مخې ترسره شي، هم نورو کارونو لپاره وخت پیدا کیږي او هم انسانانو ته د ارامتیا احساس ورکولی شي.

د لومړیتوب لرونکو کارونو ترسره کول د وخت د ویش پر اساس انسانان نورو کارونو ته هڅوي، څو نور کارونه هم په خپل وخت او کره توګه ترسره کړي.

ویلی شو چې د وخت مدیریت په دې معنی دی چې له خپلې وسې او وړتیا سره سم باید کوم کارونه ترسره کړو او د کومو لپاره پلان جوړ کړو چې په راتلونکې کې یې د ترسره کولو هوډ لرو.

»

ډېری وخت انسانان وخت نشي مدیریت کولی، ځکه په داسې کارونو بوخت وي چې د ترسره کولو وړتیا یې نه لري او یا هم د هغو کارونو ترسره کول یې له وسه بهر وي بیا وروسته پوه شي چې د دې کار ترسره کول ناشونې دي.

تر ټولو مهمه پریکړه دا ده چې د کار له ترسره کولو مخکې باید وکتل شي چې دا کار څومره وخت ته اړتیا لري او په یوازې توګه کولی شو له خپلې وسې سره سم یې ترسره کړو، که چیرې ارزونه دا وي چې ترسره کول یې ناشونې دی، بیا یې له پیلیدو څخه نه پیلیدل اړین دی.

همدارنګه د دې لپاره چې انسانان له خپلې سلامتیا څخه ساتنه وکړي، نو د وخت په تنظیم کې باید خوب کولو ته هم وخت ورکړل شي، ځکه سالم عقل په سالم بدن کې دی او د همدې اصل پر بنسټ باید انسان په ځلورویشت ساعتونو کې د اړتیا له مخې خوب وکړي، تر څو دکارونو د ترسره کولو لپاره یې بدن جوګه او چمتو وي.

د وخت نه د ښې ګټې اخیستنې په موخه اړینه ده چې انسانان د کار پرمهال خپله ټوله پاملرنه کار ته ورکړي، څو په کره او مشمره توګه خپلې چارې ترسره کړي او د دې ترڅنګ باید د یوه کار پر مهال په نورو کارونو فکر ونکړي، ځکه تمرکز پر کار له منځه ځي او د څو کارونو په اړه په یوه وخت فکر کول بیا ستونزې زیږوي او د کار کیفیت په بشپړه توګه ختموي.

د دې لپاره چې د وخت سم مدیریت ترسره شي، اړینه ده چې د خپلو کارونو نوملړ ترتیب او د ارزښت پربنسټ دغه نوملړ وڅارل شي او د لومړیتوب له مخې کارونه ترسره شي.

د هر کار لپاره باید ځانګړی وخت وټاکل شي، انسانان تفریح ته هم اړتیا لري، ځکه په پرله پسې توګه کار کول د کار ګټور توب له منځه وړي، څومره چې په آرام ذهن سره کار ترسره شي، به هم هغه اندازه یې کره والی او ارزښت لوړ وي.

د وخت تنظیم کټ مټ لکه د پلانګزارۍ یوه پروسه ده، خو پدې پروسه کې مهمه داده چې انسان د دغه تېرېدونکې معنوي شتمنۍ څخه څنګه ګټه پورته کړي.

هڅه پکار ده چې د خپل ژوند د سمون په موخه د مهال ویش پر اساس کاري بهیر پرمخ یووړل شي، که رسمي کار وي او یا هم کورنی کار، د مهال ویش مطابق یې اجراء کول پکار دی، تر څو دا احساس له منځه ولاړ شي چې د وخت څخه مو ګټه نده پورته کړې او وخت مو له لاسه ورکړ. دیادونې وړ ده چې هغه انسانان ډېر بریالي وي چې د وخت په تنظیم، مدیریت او همدا شان د وخت څخه په ګټې اخیستنې چارې ترسره کړي.▣

# نگاهی به بانک جهانی

بانک جهانی که نام دیگر آن بانک بین المللی ترمیم و توسعه است، مهمترین سازمان بین المللی بوده که در خصوص تأمین مالی توسعه اقتصادی کشورهای در حال رشد جهان فعالیت دارد. طوریکه از نام این سازمان پیداست، بر خلاف بانک های توسعه منطقه ای که دامنه فعالیت شان به یک منطقه جغرافیایی خاص محدود می شود، این بانک در سراسر جهان فعالیت می کند.

اساسنامه این بانک در دسمبر سال ۱۹۴۵ میلادی توسط نماینده گان ۲۸ کشور جهان در شهر واشنگتن امضاء و سپس به اجراء گذاشته شد. هدف از تشکیل این بانک، ابتدا بازسازی ابزار تولید خسارت دیده ناشی از جنگ جهانی دوم و همچنین افزایش قدرت تولید و سطح زنده گی در کشورهای عضو بود. این سازمان طی سال ۱۹۴۷ به تعداد ۴ قرض به ارزش مجموعی ۴۹۷ میلیون دالر اجراء نموده که طی این سال مجموع قروض این بانک مبلغ ۶۰ میلیارد دالر رسید، اما بعد از دهۀ ۱۹۵۰میلادی وظیفه اصلی این بانک برای توسعه کشورها با اعطای قروض درازمدت و ارائه خدمات فنی به کشورهای در حال توسعه برای اجرای پروژه های عمرانی تغییر یافت.

هدف رسمی بانک جهانی بهبود سطح زنده گی در کشورهای روبه رشد، با اعطای منابع مالی تأمین شده از کشورهای صنعتی به این کشورها بوده است. در کنار آن وظیفه بانک جهانی کمک به بازسازی و توسعه کشورهای عضو با دریافت سرمایه گذاری های تولیدی در عرصه های زراعتی، انرژی، تعلیم و تربیه، صحی، تنظیم خانواده، جاده سازی و ارتباطات و همچنین تشویق سرمایه گذاریهای خارجی خصوصی با شرایط مناسب و کمک به گسترش درازمدت مبادلات تجارت بین المللی است.



محبوب الله شریفی

مسئول خطرات آمریت عملیات بازار

تعداد کشورهای عضو بانک جهانی ۱۹۲ کشور می باشد. تشکیل بانک جهانی به مانند صندوق بین المللی پول بوده و هر کشور دارای ۲۵۰ رأی است که در صورت تمایل می تواند با خرید سهام که هرسهم خریداری شده معادل یک رأی »

اضافی به ارزش ۱۲۶۶۳۵ دالر امریکایی است، آرای خود را افزایش دهد.

گروه بانک جهانی به طور عموم متشکل از ۵ سازمان زیر است، که در میان آنها (IBRD)بانک بین المللی ترمیم و توسعه موسسه مالی بین المللی از سازمان های فعال و مطرح این گروه است.

- بانک بین‌المللی ترمیم و توسعه (IBRD) که در سال ۱۹۴۵ تأسیس شده است
- مؤسسه توسعه بین‌المللی (IDA) که سال تاسیس آن ۱۹۶۰ میلادی است
- مؤسسه مالی بین‌المللی (IFC) که در سال ۱۹۵۶ تاسیس گردیده است
- میگا (آژانس چند جانبه تضمین سرمایه‌گذاری) (MIGA) که در سال ۱۹۸۸ میلادی تاسیس شده است
- مرکز بین‌المللی حل و فصل اختلافات سرمایه‌گذاری (ICSID) که در سال ۱۹۶۶ ایجاد شده است.

منابع مالی بانک منحصراً به نفع کشورهای عضو بانک مورد استفاده قرار می گیرد و کشوری که عضو بانک جهانی نیست، نمی تواند از این سازمان تقاضای قرض کند. بانک جهانی، قرضه نقدی در اختیار متقاضی قرار نمی دهد، بلکه برای پروژه های عمرانی قرضه می پردازد و یا قروض پروژه ای را تضمین می نماید، این بانک علاوه بر اعطای قرضه، خدمات متعددی را در زمینه کمکهای فنی نیز عرضه می کند.

قروض بانک جهانی برای اجرای پروژه های معین در کشورهای عضو اعطا می گردد و بازپرداخت آن پس از اتمام پروژه، آغاز شده و مهلت بازپرداخت قرضه براساس طول عمر مفید پروژه است که معمولاً ۲۵ سال را در بر می گیرد.

قروض داده شده ممکن است برای استفاده غیر پروژه ای نیز پرداخت شود، از جمله خرید مواد اولیه و تجهیزات وارداتی برای تقویت سهولت موجود و امکانات تولیدی، حوادث طبیعی، خسارات ناشی از جنگ، طرح های عمرانی و برنامه ریزی های زیربنایی توسعه ای و غیره موارد از این قبیل که میتوان تحت عنوان آن قرضه مورد ضرورت را از بانک جهانی بدست آورد.

بانک جهانی پس از بررسی پروژه ایکه برای آن درخواست قروض شده است، توجه خود را به اعتبار دولت متقاضی معطوف می دارد، زیرا بانک جهانی تنها به دولتها قرضه می دهد و مدت آن نیز بیش از ۱۵و ۲۰ سال را دربر می گیرد.

اما متغیرهای عمده ای مانند ثبات پولی و مالی، سطح پیشرفت تکنالوژی و بیلانس پرداختها نیز مورد توجه قرار می گیرد، کارشناسان بانک که اعطای قرضه به کشورها را بررسی می کنند و باید اطمینان یابند که دولت قرض خواه مایل و قادر به بازپرداخت قرض خواهد بود و به قراردادهای خود احترام می گذارد. از آنجائیکه امکان عدم بازپرداخت قرض وجود دارد، قروض با تضمین دولت کشورهای عضو اعطا می شود و در صورت وجود خطرات، از سرمایه بانک که حاصل سهام کشورهای عضو می باشد، تأمین می گردد.

شرایط بانک برای پرداخت قرضه یا تضمین آن از قرار ذیل ارائه میگرد:

- ضمانت بازپرداخت اصل و بهره قروض پرداختی توسط بانک مرکزی یا دستگاه رسمی دیگری در کشور عضو
- عدم امکان اخذ قرض با شرایط مناسب از بازارها و منابع دیگر تأیید طرح عمرانی یا تولیدی پیشنهاد شده توسط اعضاء
- مناسب بودن نرخ بازده طرح و توان بازپرداخت اصل و فرع قرض
- اطمینان از بازپرداخت اصل و فرع قرضه اعطا شده
- دریافت کارمزد مناسب برای تضمین قروض دیگران
- مصرف وام اعطایی صرفاً برای مقاصد عمرانی و تولیدی

قروض این بانک به نرخ بهره های حاکم بر بازار و با موعدهای پرداخت معمولی بازار اعطا می گردد، از نظر مسئولان بانک جهانی، برای اعطای قروض به پروژه ها باید به دو جنبه توسعه ای و مالی این قرضه ها توجه شود یعنی یا به توسعه اقتصادی کمک کند و یا از جنبه مالی به کشورها کمک شود.▣

منبع:

www.worldbank.org.af

# استفاده از کارت های اعتباری و بانکداری توسط موبایل در کشور



در این اواخر گسترش رقابت، همراه با تحولات وسیع در عرصه تجارت و بانکداری بسیاری از روش های سنتی را دگرگون ساخته و فضای رقابت را در بکارگیری از تکنالوژی معلوماتی نو حاکم ساخته است.

بعد از سال ۱۳۸۱ ایجاد حکومت موقت، ادارۀ انتقالی و سر انجام روی کار آمدن دولت جمهوری اسلامی افغانستان، این کشور مورد توجه جامعه ای جهانی قرار گرفت. این امر موجب سرازیر شدن کمک های جامعه جهانی در بخش های مختلف، زمینه ساز سرمایه گذاری در سکتور های اقتصادی و ایجاد بانکهای خصوصی در کنار بانک های دولتی گردید.

در این میان توجه دولت و سرمایه گذاران داخلی و خارجی، به سرمایه گذاری در بانک‌ها، سبب گردید تا نظام بانکداری در افغانستان به مرور زمان رشد نماید و بانکداران نیز جهت افزایش شهرت، جذب مشتریان جدید و بخاطر جلوگیری از ضیاع وقت مشتریان، سیستم های بانکداری الکترونیکی را ایجاد نمودند.

استفاده از کارت های اعتباری هر چند به پیمانه زیاد رشد نکرده، اما باعث ایجاد سهولت برای متشبثین، تجار و سایر هموطنان ما گردیده است. در حال حاضر بخشی از مشکلات مردم از این ناحیه رفع گردیده و مردم نیاز ندارند تا در صف طولانی ایستاده شده و وقت شان تلف گردد. اکنون مردم می توانند به راحتی کار های پرداخت و یا برداشت پول شان را از طریق ماشین های صرافی و دیگر خدمات نظام بانکی انجام دهند.

افغانستان یک کشور روبه انکشاف است و با توجه به پیشرفت نظام بانکداری در سطح جهان، افغانستان باید به معیارهای دست یابد تا از مسیر پیشرفت از سایر کشورها عقب نماند. بناءً استفاده از کارت های اعتباری و سایر خدمات بانکی در بانکداری الکترونیکی برای متشبثین، تجار، سرمایه گذاران و سایر مشتریان نظام

»

بانکی در جهت کار و بار شان بسیار مؤثر و ممد واقع می گردد.

استفاده از کارت های اعتباری و سایر سهولت های بانکداری در سیستم بانکداری الکترونیکی، قدرت و پیشرفت نظام بانکی را نشان می دهد و باعث جلب اعتماد بیشتر سرمایه گذارن داخلی و خارجی به نظام بانکی می گردد. چون معیار های جهانی رو به پیشرفت بوده، این امر سبب گرایش بیشتری مردم نسبت به گذشته به این نوع بانکداری گردیده است. بنابر عوامل فوق، شرکت های مخابراتی کشور برای اولین بار در سال ۱۳۸۷ فعالیت خود را در بخش عرضه خدمات پولی از طریق موبایل آغاز نمود و تا اکنون پیشرفت های خوبی داشته است.

در استفاده از این سیستم پول در معرض آلوده گی قرار نگرفته، زود مندرس نمی شود، همچنان حین خرید لازم نیست تا حجم زیادی پول را با خود انتقال دهیم. با داشتن کارت های اعتباری و بانکداری از طریق موبایل ما می توانیم به خرید اشیاء، اجناس و خدمات مورد ضرورت خود بپردازیم. اگر ما به سایت های فروشگاه های خارجی سر بزنیم می بینم که بسیاری از سایت های فروش آنلاین در برخی ایام سال در خرید اجناس چند فیصد تخفیف نیز قایل می شوند، مانند خرید آیپد، آیفون، تبلت های مختلف، پوشاک و سایر لوازم زنده گی که می توانیم با استفاده از سهولت های بانکداری الکترونیکی از این مزیت ها استفاده کرده و به کالاهای مورد نیاز خود بصورت آسان و مطمئن دست یازیم.

وظیفه ای ام-پیسه عبارت از پرداخت معاشات بصورت شفاف و مطمئن از طریق تیلفون همراه در سراسر کشور بوده و بیشتر از ۴۰ کمپنی و نهاد انتفاعی و غیر انتفاعی جهت اجرای معاشات شان از این سیستم در سراسر افغانستان استفاده می نمایند و تعداد مشترکین ام-پیسه در حدود یکصد هزار نفر می باشد. خدمات ام-پیسه سهولت های زیادی را برای تأسیسات دولتی و خصوصی جهت اجرای معاملات پولی بطور شفاف فراهم ساخته و خدمات مطمئن شفاف و سریع را جهت دسترسی خدمات مالی از قبیل دریافت و پرداخت قرضه های کوچک، انتقال پول در داخل و خارج کشور، پرداخت معاشات، خریداری کریدت کارت موبایل و پرداخت بل برق ارائه می نماید که برای باشنده گان کشور نهایت مؤثر واقع شده است.

همچنان باید گفت که مهمترین مزایا و ویژگی های استفاده از کارت های اعتباری، عبارت از امنیت، سرعت، هزینه کم، آسان بودن، کاهش اشتباهات انسانی، بهبود مدیریت وجوه نقدینگی و بهبود روابط با مشتریان می باشد. پول الکترونیکی از طریق کارت های اعتباری، حساب جاری الکترونیکی، حساب جاری معمولی از طریق تیلفون همراه، کمپیوتر، انترنت توسط افراد و سازمان ها، نهادها و یا هم کارمندان بانک صورت می گیرد.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. http://middleeastpress.com
2. نویسنده/ احمد شفاهی ۲/ دلو / ۱۳۹۲

   http://www.bbc.com
3. www.aba.org.af
4. http://mcit.gov.af




# مختصر در مورد سیستم بانکداری سویس

بزرگترین و مهمترین سرمایه یک بانک، میزان اعتمادی است که جامعه نسبت به آن بانک دارد. سیستم بانکی سویس در اروپا نیز بر معیارهای فوق استوار بوده و بیشتر از یک قرن است که به سویسی ها ثروت، اعتبار و اعتماد بخشیده است. همین اعتماد خدشه ناپذیر، بانک های سویس را امن ترین مکان ثروت و سپرده های نقدی میلیون ها شخص از ملیت ها و کشور های مختلف جهان مبدل نموده است.

بانک‌های سویس حتی در جریان دو جنگ جهانی، امن ترین موقعیت برای امانات مردم باقی ماند. این کشور از نظر سری بودن نظام بانکی اعتبار تاریخی داشته و قوانین حاکم بر این کشور اجازه می دهد تا هر نوع معلومات و اطلاعات در مورد نظام بانکی در اختیار مشتریان قرار داده شود، مگر در بعضی حالات استثنایی که در آنصورت، مشتری با قاچاق مواد مخدر و سایر جرایم پیوند داشته باشد.

فرانک سویس با پشتوانه ای حدود ۴۰ در صد ذخیره طلا، با نرخ تورم صفر، یک واحد پولی معتبر جهان بشمار میرود. این کشور از امن ترین مکان های سرمایه گذاری در سطح جهان محسوب می گردد. تمام کشورها و بیشترین شرکت های معتبر جهان، سیاستمداران تمام جهان، در این کشور حساب بانکی دارند. امنیت بالای اقتصادی، سیاسی و اجتماعی این کشور یکی از مزیت های عمده این کشور برای سرمایه گذاری محسوب می

»

گردد. این کشور در حدود دو قرن است که شاهد هیچ گونه جنگ و منازعات نبوده و تنها یکی از کشورهای است که از بحران مالی اخیر خساراتی را متحمل نگردیده است. وضعیت سیاسی و اجتماعی در این کشور طوری است که بروز هر گونه حوادث اجتماعی به حد اقل رسانیده می شود.

در سویس، تمام بانک‌ها توسط کمیسیون بانک فدرال کنترول می گردد، بانک‌های این کشور در حفظ حریم خصوصی و حمایت از مشتریان شهرت جهانی داشته و هیچ راهی برای پیگیری حساب سپرده ها وجود ندارد.

در این کشور در حدود ۴۰۰ بانک وجود دارد و بزرگترین آنها عبارت از بانک UBS و Credit Suisse اند و هر دو بانک یاد شده، در حدود ۶۹۵۶۹ کارمند دارند. بانک UBS، بیش از صد سال قدامت داشته و در سال ۱۹۸۹ به این نام مسمی شده است. بانک Credit Ssuises بیشتر از صد سال قبل توسط یک اقتصاددان سویسی به نام آلفرد اشر ( Alfard Eshchere) در سال ۱۹۵۸ میلادی پایه گذاری شده و نسبت به بانک UBS قدامت بیشتر دارد.

قانون اساسی این کشور، بانک مرکزی را در برابر فشارهای غیر ضروری محافظت نموده و هیچ یک از کارکنان بانک به دلیل اینکه به درخواست دولت عمل نکرده باشند، برکنار نمی گردند و انتصاب افراد در بانک های سویس برای مدت ثابت یک راهکار معمول می باشد. بانک مرکزی سویس وضعیت اقتصادی و گزارش سالانهٔ این کشور را به شورای فدرال تشریح می کند. بانک‌های سویس از سیستم الکترونیکی بسیار قوی برخوردار اند و بخاطر حفاظت از حمله های سایبری و سرقت اطلاعات به اشکال مختلف، کشور سویس جایی را در اعماق کوه های گرانیت به نام گذرگاه ( گوتارد ) ترتیب نموده که مخفی گاهی مصون است. این نقطه، امن ترین نقطه در سطح جهان پنداشته می شود، هیچ اقدام مجرمانه یا اتفاقات طبیعی قادر به نفوذ به این جا نمی‌باشد. در این تونل یا مخفی گاه علاوه بر فلزات گرانبها، سرور های کمپیوتری متعلق به بانک‌ها و شرکت های صنعتی بزرگ، حاوی در برگیرنده ای اطلاعات محرمانه نگهداری می شوند. روی همین علت است که بیشتر سرمایه گذاران جهان علاقمند سرمایه گذاری در بانک‌های سویس می باشند. روی همین علت اطلاعات مربوط به حساب ها در بانک‌های سویس به هیچ وجه به دسترس طرف ثالث قرار نمی گیرد.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. http://athir.blogfa.com/ نگاهی به بانکداری سویس / نوشته علی زینعلی
2. http://en.mfa.ir نظام اقتصادی سویس و ویژگی های آن
3. www.aftabir.com / بانکداری سویس / نوشته: مهدی یار احمد خراسانی / پنجشنبه – ۸ / دلو / ۱۳۸۸
4. http://fekrenovin.blogfa.com : آشنایی با نظام اقتصادی و سیستم بانکداری کشور سویس / نویسنده: اعظم احمدیان

# په لویدیځ او ختیځ سیمه ایزو زونونو کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستمونو په اړه د عامه پوهاوي ورکشاپونه په لاره واچول شول






د پانګه اچونې په موخه، مالي سرچینو(پور اخیستني) ته نه لاس رسی د سوداګرۍ د ودې پرووړاندې یوه ستونزه ده چې مهم لاملونه یې په قانوني چوکاټ کې په نړیوالو معیارونو د الکټرونیکي سیستم نشتوالی وو. اوسمهال د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سره دا ټولې ستونزې ورځ تر بلې د هوارېدو په حال کې دي.

د دې سیستمونو په اړه د عامه پوهاوي د زیاتوالي په موخه د وږي په۶ او ۲۱ د دوو جلا جلا غونډو په ترڅ کې د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم او د منقولو اموالو د رهنی حقونو د ثبت په اړه په هرات او ننګرهار ولایتونو کې روزنیز ورکشاپونه جوړ شول.

دا ورکشاپونه چې د نړیوال بانک په مالي مرسته جوړ شوي وو موخه یې د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت او د عامه اعتبارونو د ثبت سیستمونو پیژندنه په ګوته شوې وو. په دې ورکشاپونو کې د خصوصي بانکونو او د کوچنیو پور ورکونې د مؤسسو ترڅنګ د لاسي صنعت د ټولنو استازو او د بېلا بېلو برخو ۱۴۰ تنه ښځینه او نارینه مدیرانو او کارکوونکو ګډون کړیوو.

د عامه اعتبارونو د ثبت سیستمونه، په عملي، کره او علمي توګه د عامه اعتبارونو د ثبت د لوی آمریت د مرستیال ښاغلي ناصر سهاک لخوا ګډونوالو ته وپیژندل شو او په بېلابېلو برخو یې رڼا واچول شوه.

د هرات ولایت د ورکشاپ په پایله کې د لویدیځ سیمه ایز زون آمر ښاغلي انور شاه "یوسفي" د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د ګټو په اړه بشپړ توضیحات ورکړل او د خپلو خبرو په څنډه کې زیاته کړه چې د هېواد د بانکي نظام د ټینګښت په برخه کې معیاري او نړیواله منل شویو موخو ته رسیدل یوازینۍ اړتیا ده، څو د بانکې نظام ټول کارکوونکي ځانونه په کره توګه له مسلکي پوهې سره آشنا کړي او د بانکې خدمتونو په لوړولو کې مهم رول تر سره کړي چې غوره بیلګه یې د دې ډول ورکشاپونو په لاره اچول دي.

د جلال آباد ښار د ورکشاپ په پایله کې د ختیځ زون آمر ښاغلي احمدزي توحیدیار د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د ګټو په اړه رڼا واچوله او د خپلو خبرو په ترڅ کې زیاته کړه، د هېواد د بانکي نظام د ټینګښت په برخه کې باید نړیوال او منل شوي معیاري سیستمونه پلي شي، څو د بانکې نظام ټول کارکوونکي په مسلکي پوهې سمبال شي.

د یادونې وړ ده چې د نړیوال بانک د سروې له مخې په ۲۰۱۱ کال کې په ټوله نړۍ کې د عامه اعتبارونو د ثبت شاوخوا ۸۵ دفترونو شتون درلوده چې له نیکه مرغه د افغانستان بانک، د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت هم په دې نوملړ کې شامل شوی دی. د عامه اعتبارونو د ثبت اداري چارواکي هڅه کوي چې د پور اخیستونکو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي، څو ډېرۍ متشبثین په ارامه او ډاډمنه فضا کې له پور اخیستنې څخه ګټه پورته کړي.

د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت په ۲۰۰۸ کال کې د نړیوال بانک په مرسته جوړ شوی چې اوس مهال له ۲۰۰ زرو ډیر پېریدونکي د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ثبت دي او ورځ تر بلې دا لړۍ پراخیږي.▣




**اطلاعیه د افغانستان بانک!**

مطابق ماده سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است، بناً از عموم افغانها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی آرزومندیم تا در قرار داد ها و سایر معاملات و داد و ستد های اقتصادی، پول افغانی را ترجیح دهند، چون افغانی از با ثبات ترین پول های منطقه بوده که در ثبات برنامه ریزی های اقتصادی تان مثمر واقع می شود.

د افغانستان بانک

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال یازدهم شماره ۱۲۳، سنبله ۱۳۹۶




ګرانو هېوادوالو! د افغانی بانکنوټونو په ساتلو کې جدي پاملرنه وکړئ